دعوت
مجله علمی تحقیقی
سال ششم، خزان و زمستان ۱۴۰۴هـ ش
شماره مسلسل
۱۳
REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22
ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23

# د افغانستان په سیمه ییز اقتصاد کې د واخان دهلیز ارزښت او پر وړاندې یې ننګونې

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ


## نچوړ

دا څېړنه دواخان دهلیز دافغانستان په سیمه ییز اقتصاد کې داهمیت ارزونه کوي. د څېړنې اصلي هدف دا دی چې د واخان دهلېز جغرافیایي موقعیت، اقتصادي ظرفیتونه، د سوداګرۍ او ترانزیټ په پراختیا کې یې رول، او همدارنګه هغه امنیتي، سیاسي او زیربنایي خنډونه وڅېړي چې د دې دهلېز د فعالېدو پر وړاندې شتون لري. همدارنګه، څېړنه د یو کمربند یوه لار (BRI) او نورو سیمه ییزو اقتصادي پروژو په رڼا کې د واخان دهلېز د ارزښت بدلون تحلیل کوي. په دې څېړنه کې د اسنادو د تحلیل میتود کارول شوی دی او د دوهم لاس معلوماتو لکه علمي مقالې، نړیوال راپورونه، تاریخي اسناد، حکومتي سرچینې او معتبرې تحلیلي څېړنې تر مطالعې لاندې نیول شوي دي. معلومات په سیستماتیک ډول تحلیل شوي، تر څو د واخان دهلېز اقتصادي، ترانزیټي او جیوستراتیژیک نقش روښانه شي. د څېړنې پایلې ښیي چې واخان دهلېز د افغانستان لپاره د چین، منځنۍ آسیا او ختیځې آسیا سره د نښلولو یوه مهمه، لنډه او بدیله سوداګریزه لاره ده. د دې دهلېز فعالېدل کولای شي د افغانستان ترانزیټي عواید زیات کړي، صادرات پراخ کړي، د پانګونې فرصتونه رامنځته کړي، او هېواد له اقتصادي انزوا وباسي. خو امنیتي اندېښنې، کمزورې زیربناوې، سیاسي بې‌ثباتي او اداري ستونزې لا هم د تطبیق مهم خنډونه ګڼل کېږي. که دا ستونزې حل شي، واخان دهلېز د افغانستان د اقتصادي ودې او سیمه ییز ادغام لپاره یو بنسټیز بدلون رامنځته کولای شي.

**کلیدي کلمې:** واخان دهلېز، سیمه‌ییز اقتصاد، سوداګري او ترانزیټ، اقتصادي ادغام


**عرفان الله ستانکزي**
دعلمي څېړنو مرستیال، روښان پوهنتون
Irfanullah6066@gmail.com

دریافت مقاله: ۱٤۰٤/۰۹/۲۳
پذیرش مقاله: ۱٤۰٤/۱۲/۲٥
www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**Abstract**

This study evaluates the significance of the Wakhan Corridor in Afghanistan's regional economy. The primary objective of the research is to examine the geographical location of the Wakhan Corridor, and its economic potential, moreover its role in the development of trade and transit, along with this security, political, and infrastructural challenges that hinder its operationalization. Furthermore, the study analyzes the changing significance of the Wakhan Corridor in light of the Belt and Road Initiative (BRI) and other regional economic projects.

The research employs a document analysis method and is based on secondary data sources, including scholarly articles, international reports, historical documents, government publications, and credible analytical studies. The collected information was systematically analyzed to clarify the economic, transit, and geostrategic role of the Wakhan Corridor.

The findings indicate that the Wakhan Corridor serves as an important, shorter, and alternative trade route connecting Afghanistan with China, Central Asia, and East Asia. The activation of this corridor has the potential to increase Afghanistan's transit revenues, expand export opportunities, attract investment, and reduce the country's economic isolation. However, security concerns, inadequate infrastructure, political instability, and administrative challenges continue to constitute major obstacles to its implementation. If these challenges are effectively addressed, the Wakhan Corridor could become a transformative catalyst for Afghanistan's economic growth and regional integration.

**Keywords**: Wakhan Corridor, Regional Economy, Trade and Transit, Economic Integration.

Dawat
Academic
Journal

Sixth Year, Issue 2
(Fall & Wintar 2025)

Volume
13

Received: 2025/12/14
Accepted: 2026/03/16

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**سریزه**

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَاصَحَابِهِ أَجْمَعِينَ، أَمَّا بَعْدُ: واخان دهلیز د افغانستان په شمال ختیځ بدخشان ولایت کې هغه ستراتیژیکه او تاریخي سیمه ده چې د هېواد جغرافیایي او سیمه ییز اهمیت یې څو برابره کړی دی. دغه تنګ، اوږد او غرنی دهلیز د افغانستان یوازینی مستقیمه پوله ده چې د چین د سینګیانګ له ولایت سره یې نښلوي، او شاوخوا اتیا کیلومتره ګډ سرحد ورسره لري. په همدې ځانګړي موقعیت سره واخان د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ د جغرافیایي او اقتصادي وصل مهمه نقطه جوړوي، چې افغانستان له تاجکستان، پاکستان او چین سره په سیمه ییزو همکاریو کې مهم رول ته رسوي.تاریخي شالید ښیي چې واخان دهلیز د ۱۹مې پېړۍ په وروستیو کې د روسیې او برېتانوي هند د سیالیو په ترڅ کې د حایلې سیمې (Buffer Zone) په توګه رامنځته شو. سره له دې چې دغه سیمه د سختو غرنیو لارو له امله تګ راتګ ته اسانه نه وه، خو د تاریخ په اوږدو کې د سوداګرۍ، کارواني لارو او د تمدنونو د وصل د یوې مهمې لارې په ډول پېژندل شوې ده.

نړیوال بدلونونه او د سیمې جیوپولیتیکي رقابتونه د واخان دهلیز ارزښت نور هم لوړوي. د چین ـ پاکستان اقتصادي دهلیز(CPEC) ، کراکورم لویې لارې او د مرکزي اسیا د هېوادونو د اقتصادي همکاریو پراخې پروژې واخان په یوه حیاتي اقتصادي دهلېز بدلوي. دغه مسیر کولای شي افغانستان ته د سیمه ییزو او نړیوالو بازارونو د نښلولو نوې دروازې پرانیزي او د سوداګرۍ، ترانزیټ، وارداتو او صادراتو لپاره تر پخوا پراخ فرصتونه رامنځته کړي.

په ټوله کې، واخان دهلیز نه یوازې یو تاریخي میراث دی، بلکې د افغانستان لپاره د ستراتیژیک نفوذ، اقتصادي ودې او سیمه ییز اتصال یوه کم‌نظیره پانګه هم ده چې اغېزمن مدیریت او سیمه ییزې همکارۍ یې ارزښت څو برابره زیاتولی شي.

**څېړنیزه ستونزه**

څرنګه چې پوهېږو واخان دهلیز د افغانستان د جغرافیایي موقعیت په درلودلو سره د چین، تاجکستان او پاکستان تر منځ د نښلیدو یوه مهمه سیمه ګڼل کېږي او د سیمې د اقتصادي پیوستون لپاره حیاتي ارزښت لري، خو تر اوسه د دې دهلیز اقتصادي امکانات او ستراتیژیک ظرفیتونه په اغېزمن ډول نه دي روښانه شوي. د زیربناوو نشتوالی، او د ګاونډیو هېوادونو سیاسي او جیوپولیتیکي رقابتونه د دې لامل شوي چې واخان دهلیز په سیمه ییز اقتصاد کې هغه رول ادا نه کړي چې طمه ترې کېږي. په همدې اساس، ډېر معلومات تر وسه روښانه او دقیق نه دي په ګوته شوي، چې واخان دهلیز څنګه او تر کومه بریده کولای شي د افغانستان د سیمه ییز اقتصادي پیوستون، سوداګرۍ پراختیا او ترانزیټي عوایدو زیاتوالي روښانه کړي.

**څېړنیزې پوښتنې**

د واخان دهلیز جغرافیایي موقعیت د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانزیټ په پراختیا کې څه ډول اهمیت لري؟

په سیمه کې د نوو سړکونو او اقتصادي پروژو د جوړېدو وروسته هم، د واخان دهلیز ارزښت څنګه زیات شوی؟

د واخان دهلیز د فعالېدو په وړاندې مهم اقتصادي، امنیتي او سیاسي خنډونه کوم دي؟

که واخان دهلیز فعال شي، د افغانستان لپاره د سیمه‌ییز اقتصادي ادغام، سوداګرۍ او عوایدو په برخه کې کومې احتمالي ګټې رامنځته کېدای شي؟

**څېړنیزې موخې**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د واخان دهلیز د جغرافیایي موقعیت او د سیمه ییز اقتصادي پیوستون په جوړولو کې یې رول وارزول شي،او د دې ستراتیژیکې لارې د اقتصادي فرصتونو، سوداګرۍ، ټرانزیټ او سیمه ییزو همکاریو د پراختیا امکانات وڅېړل شي. سربېره پر دې، څېړنه روښانه کوي په سیمه کې د ستراتیژیکو اقتصادي پروژو لکه CPEC او کراکورم لویې لارې د اغېزو له مخې د واخان دهلیز د اهمیت بدلون وڅېړي او هغه اقتصادي، امنیتي او سیاسي خنډونه وپیژني چې د دې دهلیز د فعالیدو او اقتصادي کارونې په وړاندې ستونزې جوړوي. همدارنګه، څېړنه به د افغانستان د اقتصادي ودې او عوایدو د لوړوالي لپاره د واخان دهلیز د احتمالي ګټو او د پراختیایي لارو چاري روښانه کړي.

**تیرولیکنو ته کتنه**

واخان دهلېز افغانستان په مستقیم ډول د چین ولسي جمهوریت سره نښلوي. چین نن ورځ د نړۍ دوهم اقتصادي او صنعتي ځواک ګڼل کېږي او د اوسني پرمختګ په چټکتیا سره ډېر ژر به له امریکا مخکې شي او د نړۍ لومړی اقتصادي ځواک به وګرځي. چین د خپلو صنعتي اړتیاوو لپاره د معدني موادو، نفتو او ګازو پراخو سرچینو ته اړتیا لري، او د خپل ۱.۴ ملیارده نفوس د تغذیې لپاره کرنیزو محصولاتو ته اړتیا لري. افغانستان کولای شي د چین ګاونډی په توګه د دې موادو د عرضه کوونکي په حیث له خپل مهم ستراتیژیک موقعیت څخه ښه ګټه واخلي.(Howd.org. (2023 .

واخان دهلېز د افغانستان او چین ترمنځ یو مهم ستراتیژیک او اقتصادي پل ګڼل کېږي. دا دهلېز افغانستان ته دا فرصت برابروي چې له چین سره مستقیمه ځمکنۍ اړیکه ولري او د "یو کمربند، یوه لار" او سي‌پیک په څېر لویو سیمه‌ییزو پروژو کې برخه واخلي. د دې له لارې افغانستان کولای شي خپل صادرات زیات کړي، سوداګري پراخه کړي او اقتصادي وده چټکه کړي.له بلې خوا، چین هم د دې دهلېز له لارې کولای شي له افغانستان او سیمې سره خپلې اقتصادي اړیکې پراخې کړي او د انرژۍ، سوداګرۍ او ترانزیتي لارو بدیل مسیرونه ترلاسه کړي. همدارنګه، دا لاره د چین لپاره د منځنۍ آسیا، منځني ختیځ او نورو سیمو سره د نښلونې یو مهم مسیر ګرځېدلی شي.په ټوله کې، واخان دهلېز د دواړو هېوادونو لپاره د اقتصادي همکارۍ، ترانزیت، سوداګرۍ پراختیا او سیمه‌ییز اتصال له پلوه ځانګړې اهمیت لري.( Mushtaq, M. 2024 )

افغانستان، چې د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ د بفر (Bafar)هیواد په توګه موقعیت لري، د سیمه ییزو اقتصادي اهدافو لپاره ستراتیژیکې ترانزیتي ګټې لري. چین، د خپل نړیوال اقتصادي ځواک او د یو پټه یو سړک (One Belt One Road) نوښت په کارولو سره، واخان دهلیز د یوې مهمې لارې په توګه ګوري، ځکه چې دا نسبتاً خوندي دي، مرکزي اسیا، جنوبي اسیا، اروپا او د انرژۍ لویو مرکزونو ته نږدې دي. که څه هم د دې سیمې ځمکنۍ جوړښت ستونزمن دی، خو واخان دهلیز چین ته د سوداګرۍ او اوږدمهاله اقتصادي پلان جوړونې لپاره ستراتیژیک مسیر وړاندې **کوي**.( Yawar, M. E. 2024 )

واخان دهلیز، چې د افغانستان په بدخشان ولایت کې موقعیت لري، چین، پاکستان، افغانستان او تاجکستان سره نښلوي او د پخواني ریشم لارې د برخې په توګه تاریخي اهمیت لري. نن ورځ دا سیمه د سیمه ییز پیوستون، سوداګرۍ، ګرځندوی او اقتصادي

فعالیتونو لپاره لوی ظرفیت لري، ځکه چې چاپېریال یې نسبتاً ارامه دی. که د واخان له لارې سړک جوړ شي، نو پاکستان ته به د مرکزي اسیا او چین ته د افغانستان د رسیدو لپاره لنډه تجارتي لار برابره شي. دا څېړنه د واخان دهلیز د بیا راژوندي کولو امکانات د سړک جوړونې له لارې ارزوي، د دې ستراتیژیک اهمیت ته اشاره کوي او د پروژې د پلي کولو بېلابېل ننګونې یې هم روښانه کړې. (Munir, M., & Shafiq, M. 2018).

واخان دهلیز، چې د افغانستان په شمال ختیځ کې موقعیت لري، د پاکستان لپاره هم ستراتیژیک اهمیت لري، د مرکزي اسیا سره د یوه جیوستراتیژیک بفر په توګه پیژندل کیږي او د افغانستان سره د سرحدي کنټرول لپاره امنیتي ګټه هم لري. دغه دهلیز پاکستان ته د مرکزي اسیا بازارونو ته د لاسرسي فرصت برابروي، سیمه ییزپیوستون او سوداګری ته وده ورکوي او د ثبات او همکارۍ په رامنځته کولو کې مهم رول لري. له اقتصادي پلوه، واخان دهلیز د هیدروکاربونو، معدني موادو او قیمتي ډبرو په ګڼون په طبیعي سرچینو بډای دی او د پاکستان د انرژۍ او سوداګرۍ سکتورونو لپاره لوی ظرفیت لري. (Hassan, T. U., Khan, A., & Ismail, M. 2023).

دا څېړنه د واخان دهلیز له لارې د افغانستان او چین اړیکې څېړي، په ځانګړي ډول د زیربناوو پراختیا، اقتصادي ګټو او جیوپولیتیک اهمیت باندي تمرکز کوي. څېړنې ښيي چې د چین ونډه د واخان دهلیز په پراختیا کې د سوداګرۍ او سیمه ییز پیوستون لپاره مهمه ده او د افغانستان لپاره مثبت اقتصادي او ستراتیژیکې اغېزې لري. عملي سپارښتنې کولی شي اقتصادي ګټې زیاتې کړي، امنیتي اندېښنې کمې کړي، سیمه ییزه همکاري پیاوړې کړي او د سولې او هوساینې لار هواره کړي (Sarbiland, H., & Stanikzai, I. U. 2024).

واخان دهلیز، چې د افغانستان شمال ختیځ کې موقعیت لري او افغانستان، پاکستان، چین او تاجکستان سره نښلوي، د سیمه ییز پیوستون او اقتصادي پراختیا لپاره مهم ستراتیژیک فرصتونه رامنځ ته کوي. د چین د یو کمربند، یو سړک نوښت له لارې د دې دهلیز تاریخي اهمیت بیا راژوندي شوی او د مرکزي اسیا د انرژۍ بډایه سیمو ته نږدې موقعیت یې جیوپولیتیک ارزښت نور هم زیات کړی دی. د واخان دهلیز بیا فعالېدل کولی شي سیمه ییزه همکاري پیاوړې کړي، د نړیوال پام ځانته جلب کړي او ګڼ اقتصادي او ستراتیژیک فرصتونه رامنځته کړي.(Amir, I. (2023

د واخان اقتصادي دهلیز د مرکزي اسیا او شاوخوا سیمو لپاره یو ستر جیوپولیتیک بدلون دی چې د هېوادونو ترمنځ اړیکې، سیمه ییز ځواک توازن او ستراتیژیک یووالي اغېزمن کوي. دا دهلیز د دولتونو لپاره د بهرنیو چارو په پریکړو، سیمه ییز ثبات، اقتصادي فرصتونو او نړیوالو جیوپولیتیکي سیالیو کې مهم رول لري Bukhari, S. R. . ( H., Khan, A. U., & Khan, M. T. U. 2024).

د واخان دهلېز هغه تنګ او ستراتیژیک پټی دی چې د افغانستان په شمال ختیځ کې موقعیت لري او د پاکستان، چین او تاجکستان د جغرافیایي د سرحدونو د یو ځای کېدو سیمه ګڼل کیږي. دا سیمه چې د «اوراسیا ستراتیژیک تړاو» په توګه یادېږي، د نړۍ د لوړو غرنیو لړیو ترمنځ پرته ده او د لرغوني ورېښمو لارې یو مهمه برخه وه، چې د چین، مرکزي آسیا، فارس او هندوستان ترمنځ یې د سوداګرۍ، کلتوري تبادلې او پوځي خوځښت زمینه برابره کړې وه. د نولسمې پېړۍ په شخړو کې، واخان د روسي تزاري امپراتورۍ او برتانوي هند ترمنځ د یوه مهم حایلي زون په توګه راڅرګنده شو.

اوس مهال، شاوخوا ۱۳ زره کسان په واخان کې ژوند کوي چې ډېری یې واخي، سریقولي او قرغیز توکمونو پورې اړه لري. دوی اکثره کوچي ژوند کوي او د سخت

موسم، محدودو زیربنایي خدمتونو، بېوزلۍ او ژور اقتصادي محرومیت له ستونزو سره مخامخ دي. .(Ahmad, A., & Jamil, A. 2023 )

د واخان دهلېز ځانګړې جغرافیایي موقعیت د بدخشان او افغانستان لپاره ستر اقتصادي او ستراتیژیک ارزښت لري، ځکه چې د مرکزي اسیا، چین، پاکستان او افغانستان د نښلولو مهمه نقطه ګڼل کېږي. سره له دې چې دغه لاره په تاریخي توګه د تجارت یو مهمه لاره وه، خو جیوپولیتیکي خنډونو تر اوسه اجازه نه ده ورکړې چې د سیمې د اقتصادي ودې لپاره په بشپړ ډول فعاله شي. که دا دهلېز بېرته پرانیستل شي، کولی شي د سیمې سوداګري پیاوړې کړي، د هېوادونو ترمنځ همکاري زیاته کړي، او بدخشان ته نوې اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي. د څېړنې پایلې ښیي چې د واخان له لارې د سوداګرۍ زیاتوالی، په ځانګړي ډول د ګوادر بندر سره د نښلو په صورت کې، د پاکستان، چین او افغانستان درې اړخیزې اړیکې پیاوړې کوي. ( Amiri, Z. 2024)

چین، چې د نړۍ دوهم ستر اقتصادي ځواک دی، غواړي د یو کمربند یوې لارې په ستراتیژۍ سره له جنوبي اسیا، لوېدیځې اسیا او اروپا سره سوداګري پراخه کړي او په عین وخت کې خپله سیمه ییزه سیالي له هند سره ترسره کړي. د افغانستان واخان دهلېز، د چین لوېدیځو سیمو ته د نږدېوالي او نسبي امنیت له امله، د چین لپاره د دې ستراتیژۍ د پلي کولو یوه مناسبه لاره بلل کېږي .(Verij Kazemi, M. 2021)

سره له دې چې دا سیمه ستراتیژیک اهمیت لري، د ۱۹مې پېړۍ د سترې لوبې، د چین د کمونستي انقلاب، د شوروي اتحاد یرغل، او د ۲۰۰۱م کال وروسته د ناټو شتون د دې سیمې د بنسټیزو پروژو د پراختیا مخه نیولې وه. اوس مهال، دا د لارې د پرانستلو پلان چې چین لري، کولی شي د سیمه ییزې سوداګرۍ او اړیکو وده وکړي، خو هند دا ګام د خپل ستراتیژیک خطر په توګه ګوري. سره له دې، هند ممکن د مرکزي آسیا د

انرژي منابعو د اقتصادي ګټو له امله اړ شي چې په سیمه کې ونډه ولري. پایله دا ده چې د سیمې د ثبات د ټینګښت لپاره باید چین او متحده ایالات همکاري وکړي. Malik, H. ( Y. 2014).

### دڅېړني تګلاره

په دڅېړني کي د کيفي ميتودڅخه استفاد شوي چي هدف يي دواخان دهليز اهميت او تاثيرات په افغانستان کې د سيمه ييز اقتصاد په برخه کې تحليل شوي. د څېړنې تګلاره او کړنلاره پر دوهم لاس ډېټا او معتبر علمي سرچينو ولاړه ده ، چې د دې موضوع اړوند منابع او ليکنې په کې تحليل شوي.

### د موادو سرچينې

په دې څېړنه کې د دوهم لاس ډېټا څخه استفاده شوې ده. دا ډېټا د معتبرو علمي سرچینو، لکه نړیوالو ژورنالونو، تاریخي اسنادو، حکومتي راپورونو، او تحلیلي څېړنو په وسیله ترلاسه شوې ده. د دې موادو تحلیل به د څېړنې نظری او تاریخي اعتبار زیات کړي او مرسته به وکړي تر څو د دواخان دهلیز د اقتصادي اهمت په اړه معلومات ترلاسه کړو.

### د څېړنې میتودونه

په دې څېړنه کې د اسنادو تحلیل میتود (Document Analysis) کارول شوی دی. دا میتود په سیستماتیک ډول د لیکلي اسنادو، ارشیفي موادو، او رسمي ریکارډونو تحلیل کوي ترڅو د یوې څېړنې لپاره معتبر معلومات ترلاسه کړي. اسنادو تحلیل د تاریخي، سیاسي، اقتصادي، او ټولنیزو مطالعاتو کې یوه عامه او معتبره څېړنیزه تګلاره ده چې د دې څېړنې لپاره هم مناسب بلل شوې ده.

**د اسنادو انتخاب**

د اسنادو تحلیل لپاره د معتبروسرچینو انتخاب ضروري دی. په دې څېړنه کې به د حکومتي راپورونه، نړیوال اقتصادي څېړنې، د افغانستان تاریخي اقتصادي اسناد او داسې نورو معتبره سرچینو څخه استفاده شوي. دغه مواد به د دواخان دهلیز اقتصادي اهمیت په مشخصه توګه تحلیل کړي.

**د تحلیل طریقه**

د اسنادو تحلیل د محتویاتو پر بنسټ ترسره کیږي، چې په هغې کې د دواخان دهلیز رول په سیمه ییز اقتصاد کې، د تولید او تدارکاتو لړۍ کې د دې دهلیز نفوذ، او د دې تاثیرات په اقتصادي پراختیا باندې تحلیل کیږي.

**پایله (Result)**

واخان دهلېز د جیوپولیټیک او جیوستراتیژیک له پلوه ځانګړې اهمیت لري، ځکه چې د نړۍ د درې مهمو غرنیو سلسلو، یعنې هندوکش، قراقرم او پامیر، د یوځای کېدنې نقطه بلل کېږي. دغه سیمه له تاریخي پلوه هم ارزښتناکه ده، ځکه چې آن د میلاد څخه مخکې د سوداګرۍ یو مهم مسیر و او د لرغوني ورېښمو لارې برخه ګڼل کېده.



پورته انځور په څرګند ډول ښيي چې واخان دهلېز د افغانستان، چین، منځنی آسیا او د یو کمربند یوه لار (BRI) سترې اقتصادي پروژې ترمنځ د نښلولو حیاتي برخه جوړوي. دا موقعیت افغانستان ته دا فرصت ورکوي چې له انزوا ووځي، د ترانزیټ له لارې عاید ترلاسه کړي، او د سیمې په سوداګریزو دهلیزونو کې فعاله ونډه ولري.

**د اسنادو د تحلیل جدول( Content Analysis Table)**

| | | |
|---|---|---|
| Khaama Press (2025) ایمل، عبدالله.(۲۰۲٤) . | واخان دهلېز افغانستان په مستقیم ډول له چین، تاجکستان او پاکستان سره نښلوي.<br>د آسیا ختیځ او لویدیځ ترمنځ د نښلونې حیاتي نقطه ده.<br>افغانستان د سیمه ییز ترانزیټ په څلورلارې بدلوي. | د واخان دهلېز جغرافیایي اهمیت |
| ACCI (۲۰۲۳)<br>ps.didpress (۲۰۲٥)<br>DW Pashto (۲۰۲۳) | واخان د پاکستان د سوداګریزو لارو بدیل وړاندې کوي.<br>افغانستان له چین سره په کم لګښت او کم وخت سوداګري کولای شي.<br>صادرات او واردات پراخېږي. | د سوداګری او ټرانزیټ بدیله لاره |
| AISRS (۲۰۲٤)<br>ایمل، عبدالله . (2024).<br>DWPashto (۲۰۲۳) | دBRI ، قراقروم لویې لارې، وخجیر لارې، او د واخان د سړک جوړېدو له امله د دهلېز ارزښت څو برابره شوی.<br>افغانستان نړیوالو بازارونو سره نښلي. | د نوو سړکونو او اقتصادي پروژو اغېز |
| Khaama Press (۲۰۲٥) AISRS (۲۰۲٤) | واخان افغانستان د چین، منځنی آسیا، ترکیې او ختیځې آسیا سره مستقیم وصلوي. | سیمه ییز اقتصادي اتصال |

| | | |
|---|---|---|
| | د سيمې جيواقتصادي نقش پياوړی کېږي. افغانستان د اسيا د اقتصادي هب ظرفيت مومي. | |
| ps.didpress (۲۰۲۵) کاکاخېل، فخر . (۲۰۲۵). | د چين امنيتي اندېښنې، د سينکيانګ پولې نږدې والی، سيمه ييزې بې‌ثباتی او ترهګريز خطرونه د دهلېز د فعالېدو جدي خنډونه دي. | امنيتي خنډونه |
| ps.didpress (۲۰۲۵) AISRS (۲۰۲٤) | د افغان حکومت او چين ترمنځ د ګډو عملي پلانونو نشتوالی، کمزورې اداري همغږي، او سياسي بې‌ثباتي د پروژې پرمختګ ورو کوي. | سياسي او اداري خنډونه |
| درانی، مامون . (۲۰۲٤). ايمل، عبدالله . (۲۰۲٤). کاکاخېل، فخر . (۲۰۲۵). | خراب سړکونه، کمزورې زيربناوې، لوړ لګښتونه، د ګمرکاتو او بندرونو نيمګړتيا د واخان بشپړ فعالېدو ته خنډ دي. | زيربنايي او اقتصادي خنډونه |
| Khaama Press (۲۰۲۵) ايمل، عبدالله.(۲۰۲٤) . | د واخان فعالېدو سره د افغانستان ترانزيټي عوايد لوړېږي، د چين منځنۍ آسيا اروپا ترمنځ د ټرانزيټ مهمه لاره ګرځي. | د ترانزيټي عوايدو زياتوالی |
| ACCI. (۲۰۲۳). حکيمي، بي‌بي امنه . (۲۰۲۵). | صادرات چين او ختيځې آسيا ته اسانه کېږي. د سوداګرۍ حجم زياتېږي. کلنی سوداګريز حجم تر يو ميليارد ډالرو اوړي. | د سوداګرۍ او صادراتو پراختيا |
| درانی، مامون . (۲۰۲٤). RTA (۲۰۲۵) | بهرني پانګوال هڅول کېږي. زيربنايي پانګونې، صنعت، سياحت او توليد وده . ملي اقتصاد پياوړی کېږي. | پانګونه او اقتصادي وده |

| | | |
|---|---|---|
| AISRS (۲۰۲٤) کاکاخېل، فخر . (۲۰۲٥). | افغانستان د سیمه ییز اقتصاد برخه ګرځي. له انزوا وځي. د چین، پاکستان، تاجکستان او منځنۍ آسیا سره اقتصادي ادغام پیاوړی کېږي. | سیمه ییز اقتصادي ادغام |
| یوسفی، جاوید . (۲۰۲٤)کاکاخېل، فخر.(۲۰۲٥) . | واخان د ابریشم لارې تاریخي برخه ده. د روس، چین او هند ترمنځ د بفر زون په توګه کارول کېده. نن د BRI ستراتیژۍ مهمه کړۍ ده. | تاریخي او ستراتیژیک اهمیت |

**د اسنادو عمومي تحلیلي پایله:**

د څېړنو ګڼې موندنې څرګندوي چې افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت له امله د سیمې په جیوستراتېژیک، جیواکونومیک او تاریخي تعاملاتو کې بنسټیز رول لري .دغه اسناد په ګډه سره لاندې محوري برخي روښانوي:

**۱ . د واخان دهلېز جغرافیایي موقعیت او عمومي پېژندنه**

واخان دهلېز د افغانستان په ختیځ بدخشان ولایت کې موقعیت لري او د چین، پاکستان، تاجکستان او د افغانستان داخلي سیمو سره نښلي. دا یوه تنګه، غرني سیمه ده چې د پامیرونو په منځ کې د افغانستان او چین یوازینی مستقیم سرحد جوړوي. له تاریخي پلوه، دا سیمه د نړیوالو سوداګریزو لارو یوه مهمه برخه پاتې شوې ده. اوس، د چین د "یو کمربند یوه لار (BRI) "ستراتیژۍ له لارې، واخان دهلېز د افغانستان لپاره د اقتصادي او ترانزیټي اړیکو نوې کړۍ جوړوي. د دې لارې افغانستان کولای شي د چین، منځنۍ آسیا، او ترکیې سره مستقیم اقتصادي ارتباط ولري، د ترانزیټ، زیربناوو او پانګونې لپاره فرصتونه رامنځته کړي، سیمه‌ییز نفوذ او د نړیوالو سوداګریزو شبکو سره وصل شي.

اقتصادي فرصتونه پکې د ترانزیټي عوایدو زیاتوالی، زیربنایي پراختیا او د بهرنیو پانګونو جذب شامل دي، او سیاسي فرصتونه پکې د سیمه‌ییزو اړیکو پراخوالی، د اقتصادي انزوا کمول، او د نړیوالو لوبغاړو سره د توازن رامنځته کول دي. په ټوله کې، واخان دهلېز د افغانستان د جیوپولیتیک او اقتصادي راتلونکي لپاره حیاتي اهمیت لري او که په ښه توګه مدیریت شي، افغانستان کولای شي د آسیا د اقتصادي هب په توګه وپیژندل شي (Khama Press. 2025).

**۲. د واخان دهلېز اهمیت د سوداګرۍ او ټرانزیټ لپاره**

د واخان دهلېز جغرافیایي موقعیت د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانزیټ لپاره ستر اهمیت لري، ځکه چې دا دهلېز د افغانستان لپاره یو مهم بدیل د سوداګرۍ او ټرانزیټ لاره وړاندې کوي، چې په مستقیمه توګه له چین او نورو منځنۍ آسیا هېوادونو سره اړیکې پیاوړې کوي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق لخوا په "د واخان دهلیز د سیمې له هېوادونو سره د سوداګرۍ او ټرانزیټ یوه بدیله لاره" کنفرانس کې د دې دهلېز اهمیت په اړه زیات بحث وشو. د ښاغلي محمد یونس مهمند په وینا، د واخان دهلېز له لارې له چین څخه وارداتي مالونه په کم لګښت او کم وخت کې انتقالیږي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا لپاره بنسټ جوړوي. سربیره پر دې، د واخان دهلېز د افغانستان لپاره یوه ښه موقع ده، چې د چین، او منځنۍ آسیا له ځینو هېوادونو سره د سوداګرۍ او ټرانزیټ اړیکې پیاوړې کړي. دا دهلېز کولی شي د افغانستان موقعیت د سیمه‌ییز اقتصاد په مرکز بدل کړي او د سوداګرۍ لارو نوي فرصتونه وړاندې کړي. د سوداګرۍ اتاق مشرانو هم د ټرانزیټي لارو پراختیا او د سوداګرۍ د ودې لپاره د دغه دهلېز اهمیت په اړه خبرې وکړې. دغه راز، د افغانستان د خصوصي سکتور

مشران تینګار وکړو چې د دې دهلېز پراختیا د سوداګرۍ مشکلات کموي او د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لاره هواروي.(ACCI. 2023 )

### ۳ . د واخان دهلېز ستراتیژیک اهمیت او د بدیلي لارې رول

د واخان دهلېز جغرافیایي موقعیت د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانزیټ په پراختیا کې ستراتیژیک اهمیت لري، ځکه چې دا دهلېز د افغانستان لپاره یوه نوې، لنډه، او کم لګښت لاره ده چې له چین او ختیځې آسیا سره مستقیم اقتصادي اړیکې ټینګوي. د واخان دهلېز له لارې، افغانستان کولی شي د پاکستان له سوداګریزو لارو تړلو څخه ځان د خلاصولو لپاره د بدیلي لارې په توګه تري ګټه واخلي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق په وینا، د دې دهلېز پراختیا کولی شي د افغانستان صادرات زیات کړي او د چینایي توکو د مرکزي آسیا او سیمې ته انتقال یوه نوې لاره چمتو کړي. د افغانستان د اقتصاد وزارت د دې دهلېز د پراختیا سره موافق دی، ځکه چې دا نه یوازې د ټرانزیټ لپاره یوه لاره ده، بلکې نړیوالو بازارونو ته د افغانستان لاسرسی پراخوي او د صادراتو ظرفیت لوړوي. که چیرې دا دهلېز فعال شي، نو د سیمې په جیو اقتصادي معادلو کې به یو مهم بدلون راولي. په هرصورت، د واخان دهلېز فعالول د چین د امنیتي اندیښنو، د سینکیانګ پولې نږدې والی، او د زیربناوو نشتوالی په څیر ننګونو سره مخ دی، چې دا ټوله پروسه ورو کوي. سربیره پر دې، د افغان حکومت او چین ترمنځ د ګډو پلې کولو پلانونو نشتوالی هم د پروژې پرمختګ ته خنډ ګرځېدلی دی. په ټوله کې، که دا ننګونې حل شي، نو د واخان دهلېز د افغانستان لپاره یوه حیاتي اقتصادي او ستراتیژیکه لاره کیدی شي، چې د سوداګرۍ او ټرانزیټ په پراختیا کې به اغیزمنه ونډه ولري ( ps.didpress. 2025).

### ۴. د واخان دهلېز او د وربېښمو لارې د بیا پرانیستلو فرصت

د واخان دهلیز جغرافیایي موقعیت د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانزیټ په پراختیا کې حیاتي اهمیت لري. دا دهلېز د افغانستان لپاره یوه ستراتیژیکه او کم لګښته لاره وړاندې کوي چې نه یوازې له چین سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره مهمه ده، بلکه د سیمې له نورو هېوادونو سره د افغانستان تجارتي اړیکې هم پیاوړې کوي. د افغانستان اسلامي امارت له لوري د واخان دهلېز په پراختیا ټینګار شوی، چې له دې لارې به چین سره د سوداګرۍ او ترانزیټ لړۍ اسانه شي. دغه لار، چې د چین سینکیانګ ایالت سره نښلوي، افغانستان ته د وربېښمو لارې د بیا پرانیستلو یوه نوې موقعیت برابروي، چې د اقتصادی ودې لپاره ډېره ګټوره ده. دا دهلېز به افغانستان ته نه یوازې د صادراتو او وارداتو نوي فرصتونه وړاندې کړي، بلکه د سیمې د نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ د پراختیا لپاره هم لاره هواره کړي. د واخان دهلېز پر جوړېدو سره افغانستان کولی شي د پاکستان د سوداګرۍ پورې تړلو لارو څخه خلاص شي او مستقیمه سوداګري له چین سره پرانیزي. سربیره پر دې، د ریل پټلۍ جوړولو پروژه هم د دې دهلېز پراختیا لپاره په پام کې ده، چې په راتلونکې کې به د افغانستان اقتصادي وضعیت لا ښه کړي ( DW Pashto. 2023).

### ۵. د واخان دهلېز پر وړاندې ننګونې

د واخان دهلیز جغرافیایي موقعیت د افغانستان لپاره د سوداګرۍ او ټرانزیټ په پراختیا کې بنسټیز اهمیت لري، ځکه چې دا دهلیز افغانستان په مستقیم ډول له چین سره نښلوي او هېواد د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او منځني ختیځ ترمنځ د اتصال په ځلورلارې بدلوي. د نوو سړکونو، سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو، او د "یو کمربند - یوه لار (BRI) "

نوښت له پراختيا سره د واخان دهليز ارزښت نور هم زيات شوی، ځکه چې دا افغانستان ته د نړيوالو بازارونو د نښلولو، د زيربناوو د پراختيا او د پانګونې د جلب فرصت برابروي. خو د دې دهليز د فعالېدو پر وړاندې مهم امنيتي ننګونې، سياسي بې‌ثباتي، کمزورې زيربناوې او اداري ستونزې هغه خنډونه دي چې د عملي کېدو بهير يې ورو کړی دی. که واخان دهليز په بشپړه توګه فعال شي، نو افغانستان کولای شي د سيمه‌ييز اقتصادي ادغام، سوداګرۍ، ترانزيټي عوايدو، د پانګونې د زياتوالي او د اقتصادي انزوا د کمېدو په برخو کې د پام وړ ګټې تر لاسه کړي او يو ځل بيا د اسيا د اتصال مهم مرکز وګرځي ( AISRS. 2024).

**۶. د واخان دهلېز د اتصال سيمه‌ييز ارزښت**

د واخان دهليز چې د بدخشان ولايت په واخان ولسوالۍ کې موقعيت لري، افغانستان له چين، تاجکستان او پاکستان سره نښلوي او د سويلي، مرکزي او ختيځې اسيا ترمنځ د اتصال يوه ستراتيژيکه نقطه جوړوي، چې دا جغرافيايي موقعيت افغانستان ته د وچې پورې تړلي هېواد له حالت څخه د وتلو او د سوداګرۍ او ټرانزيټ د پراختيا مهم فرصت برابروي؛ د چين د ورېښمو نوې لارې، قراقروم لويې لارې او د وخجير لارې د طرحو، او همدارنګه د نوو سړکونو او زيربنايي پروژو له پراختيا سره د دې دهليز اقتصادي ارزښت لا زيات شوی دی، خو سره له دې د خرابو لارو، کمزورې زيربناوو، امنيتي اندېښنو، لوړو لګښتونو په څېر ستونزې د هغه د بشپړ فعالېدو پر وړاندې جدي خنډونه دي؛ که واخان دهليز په بشپړه توګه فعال شي، نو افغانستان به د چين، منځنۍ اسيا، پاکستان او نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ نوې لارې ومومي، ترانزيټي عوايد به يې زيات شي، د توليد کچه او کاري فرصتونه به لوړېږي، د خلکو د ژوند شرايط به ښه کېږي او هېواد به د

سیمه‌ییز اقتصادي ادغام او د اسیا د اتصال په یوه مهم مرکز بدل شي. (ایمل، عبدالله ۲۰۲٤)

**۷. د واخان دهلېز پروژه او امنیتي اندېښنې**

د واخان دهلېز پروژه د افغانستان لپاره د اقتصادي ودې لویه هیله بلل کېږي، خو ورسره جدي امنیتي اندېښنې هم شته. د افغانستان اسلامي امارت په تېرو کلونو کې څو ځله له چین څخه د دې دهلېز د پرانیستلو غوښتنه کړې او دواړه لوري پر امکانونو بحث کوي. کارپوهان وايي که واخان دهلېز پرانیستل شي، د افغانستان او چین ترمنځ به د سوداګرۍ لېږد له میاشتو څو ورځو ته راکم شي او د وارداتو او صادراتو لګښت به نیمايي ته راټیټ شي، خو دا کار یوازې په سړک نه، بلکې بندرونو، ګمرکونو او نړیوالو تړونونو ته هم اړتیا لري. د بدخشان په واخان کې د سړک جوړولو پروژه لومړی د پخواني حکومت پر مهال پیل شوه او اوس د طالبانو حکومت نږدې بشپړه کړې، چې شاوخوا ۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري او افغانستان به له چین سره ونښلوي. تمه ده چې دې لارې سره به افغانستان د چین، اروپا او منځني ختیځ ترمنځ پر یوه مهم اقتصادي دهلیز بدل شي، ملي اقتصاد به پیاوړی شي او د سیاحت په ګډون به نور اقتصادي فرصتونه هم رامنځته شي، خو د پروژې بریا تر ډېره د امنیت او سیمه‌ییزو همکاریو پورې تړلې ده. (درانی، مامون۲۰۲٤)

**۸. د واخان دهلېز او د چین بازارونو ته د لاسرسي اسانتیا**

د واخان دهلېز د پرانیستلو له لارې افغانستان کولای شي د ختیځې اسیا، په ځانګړې ډول د چین بازارونو ته خپله سوداګریزه لار لنډه او اسانه کړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې او اقتصادي شنونکي وايي واخان د افغانستان تر ټولو نږدې، ارزانه او خوندي سوداګریزه لاره ده چې له لارې یې د صادراتو او وارداتو پراخ امکان برابرېږي. چین د

افغانستان له مهمو سوداګریزو شریکانو څخه دی او هر کال نږدې یو میلیارد ډالره په ارزښت راکړه ورکړه ورسره ترسره کېږي، چې د واخان دهلېز پرانیستل به دا کچه نوره هم لوړه کړي. د اقتصاد وزارت هم دا دهلېز د سیمهییزو همکاریو، صادراتو او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره مهم بولي. همداراز، د واخان د سړک د لومړي او دویم پړاو د جغل اچونې چارې د بشپړېدو په حال کې دي، چې دا به د دې سترې اقتصادي پروژې عملي کېدو ته لاره هواره کړي. (حکیمي، بيبي امنه. ۲۰۲۵)

### ۹. د واخان لارې تاریخي او اقتصادي اهمیت

د واخان لاره، چې د افغانستان په شمال ختیځ کې موقعیت لري، د ۳۵۰ کیلومتره اوږدوالي سره د چین، پاکستان، او تاجکستان ترمنځ د مهمې ترانزیتي لارې په توګه پیژندل شوې ده. دا لاره له تاریخي پلوه هم د ابریشم لارې یوه برخه وه او د درې لویو غرونو (هندوکوش، قراقرم، پامیر) د تقاطع ځای ګڼل کیږي. د واخان اهمیت د افغانستان د جغرافیایي موقعیت له امله زیات دی، ځکه چې دا لاره د اسیا ختیځ او لویدیځ ترمنځ د ارتباطاتو لپاره یوه حیاتي نقطه ده. د واخان دهلیز په فعالېدو سره، افغانستان کولای شي د چین سره خپل اقتصادي اړیکې پیاوړي کړي. چین ته د افغانستان له لارې د منرالونو او کرنیزو محصولاتو انتقال، د واخان ترانزیتي لاره د افغانستان لپاره ځانګړې اقتصادي اهمیت لري. دغه لاره که په موثره توګه مدیریت شي نه یوازې د اقتصادي پراختیا لامل کېږي، بلکې د افغانستان د سیاسي او امنیتي وضعیت ښه کولو کې هم مرسته کولای شي. د واخان د لارې بې پاملرنه ممکن د هېواد د اقتصادي فرصتونو، سیاسي حیثیت او تاریخي وقار ته ستر زیان واړوي. (وسفی، جاوید، ۲۰۲٤)

### ۱۰. د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر څرګندونې او د چین سره اقتصادي اړیکې

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، د چین د لویدیځ ۲۰ نړیوال نندارتون په پرانیستې کې د افغانستان د جغرافیایي موقعیت او اقتصادي ظرفیتونو په اړه څرګندونې وکړې. هغه وویل چې افغانستان د خپلې پراخې طبیعي زیرمو، ځوان نفوس، کرنیزو تولیداتو او ځانګړي جغرافیایي موقعیت له مخې کولی شي د سیمې د ټرانزیټ او سوداګرۍ مهم مرکز شي. افغانستان نور یوازې "په وچه کې راګیر" هېواد نه دی، بلکه د ملکونو، بازارونو او تمدنونو ترمنځ یو مهم ځمکنی پل دی. متقي زیاته کړه چې افغانستان د خپلو ګاونډیو او نورو هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو لپاره فعاله هڅې پیل کړي دي، تر څو د هېواد سوکالي او پرمختګ تضمین شي. هغه د افغانستان د اسلامي امارت په اړه وویل چې د پانګونې او سوداګرۍ لپاره خوندي چاپېریال رامنځته شوی او یوازې په وروستیو وختونو کې شاوخوا ۲۰۰۰ نوي کارخونې جوړې شوې دي. متقي ټینګار وکړ چې افغان حکومت د شفافو اصولو پراساس تعامل ته ژمن دی، چې له دې امله د بهرنیو پانګوالو باور پیاوړی شوی دی. د چین سره د اقتصادي اړیکو په هکله، هغه وویل چې چین د افغانستان یو مهم اقتصادي شریک دی او افغانستان هڅه کوي په مختلفو برخو لکه کرنه، ټکنالوژي او زیربناوو کې د چین سره دوامداره په اړیکه کې پاتې شي. په پای کې، متقي ډاډ ورکړی چې د افغانستان دروازې د ټولو هغو سوداګرو او پانګوالو پرمخ خلاصې دي چې غواړي له افغانستان سره همکاري وکړي. (RTA. 2025 )

### ۱۱. د واخان دهلېز سیمه‌ییز او نړیوال اهمیت

واخان دهلیز، چې د افغانستان په بدخشان ولایت کې موقعیت لري، د جغرافیایي او اقتصادي لحاظه خورا مهم ځای دی. دغه سیمه ۳۵۰ کیلومتره اوږده ده او د ۱۶ تر ۶۴

کیلومتره پورې پلنه ساخه لري، چې د چین، پاکستان او تاجکستان سره پوله لري. د واخان تاریخ په حقیقت کې د پخوانیو نړیوالو طاقتونو تر مینځ د لویې لوبې تاریخ روښانه کوي. د ۱۸۷۶م کال په پای کې د افغانستان د سرحداتو د تنظیم لپاره واخان د روس، چین او هند ترمنځ د بفرزون په توګه مطرح و. د چین لپاره، واخان دهلیز د اسیا او اروپا ترمنځ د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو لپاره یو حیاتي لاره ده. چین د "یو کمربند، یو سړک" پروژې په برخه کې په افغانستان کې د واخان د لارې د تګ راتګ لپاره یوه ستراتیژیکه پروژه پیل کړې، چې له دې لارې چین خپل مالونه د ایران، ترکیې او اروپا ته ورسوي. دا پروژه د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ لار پرانیزي او د افغانستان د اقتصادي وده او سیمه‌ییزو اړیکو لپاره یو فرصت ګڼل کېږي. په دې لړ کې، د واخان دهلیز له لارې چین نه یوازې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګري پیاوړې کوي، بلکه د منځنۍ اسیا او ایران سره هم د سوداګرۍ لارې پراخوي. د تاجکستان او پاکستان د سوداګرۍ لپاره هم واخان دهلیز یو ستراتیژیک اهمیت لري، ځکه چې دا لاره د بدخشان د سیمې لپاره د ټرانزیټ او اقتصادي اړیکو پراختیا زمینه برابروي. د تاجکستان او پاکستان ترمنځ سوداګري له واخان لارې له افغانستان څخه ګټه اخیستنه کولای شي، چې په دې لړ کې د ټرانسپورټ شبکه هم پراختیا مومي. د چین لپاره، د واخان سیمې سره نښلول د دې لپاره خورا مهم دي چې د خپلې "بلټ اینډ روډ" پروژې لړۍ بشپړه کړي. دا سیمه د چین د سنکیانګ سره نښلوي او چین غواړي چې د دې لارې خپل سوداګریز مالونه د افغانستان او منځنۍ اسیا له لارې نړیوالو بازارونو ته ورسوي. د چین او پاکستان ترمنځ د سي پیک کوریډور د بدخشان له لارې د سوداګرۍ یوه مهمه برخه ده، چې د افغان حکومت لخوا د پاملرنې وړ دی. همدارنګه د بدخشان د اهمیت یوه بله اړخ هم دا دی چې د دې لارې د افغانستان مالیې او اقتصاد وده کولی شي، ځکه چې دا به افغانستان ته

د ټرانزیټ اضافي عواید او د سیمې تر منځ سوداګري رامنځ ته کړي. که څه هم دا سیمه د امنیتي ستونزو او سیمه‌ایزو کشمکشونو له کبله ننګونې لري، خو د چین او افغانستان ترمنځ د همکارۍ پراختیا ددې سیمه اقتصادي او سوداګریز اهمیت لا زیاتوي. ویلي شو چي، د واخان دهلیز د چین، افغانستان، پاکستان او تاجکستان ترمنځ د اقتصادی همکارۍ، ټرانزیت او سوداګرۍ لپاره یو مهم او حیاتي موقعیت دی، چې د سیمې د پرمختګ او نړیوالو اړیکو په لا پراخېدو کې مرسته کوي. (کاکاخېل، فخر. ۲۰۲۵)

**مباحثه**

د افغانستان موقعیت د منځنۍ آسیا، جنوبی آسیا ترمنځ د یو ستر ټرانزیټي مسیر په توګه ګڼل کېږي. واخان دهلیز (یا د دواخان ترانزیتي لارې) پراختیا نه یوازې د افغانستان لپاره بلکه د سیمې د اقتصاد لپاره هم یو مهم فکتور ګڼل کیږي. دغه دهلیز د تجارت لپاره نه یوازې افغانستان ته، بلکې د سیمې نورو هیوادونو ته هم یو مهم اقتصادی فرصت وړاندې کوي.

واخان دهلیز د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو ترمنځ د تجارتي اړیکو په پراختیا کې د اهم رول لرلو ترڅنګ، د سیمه ییز اقتصاد لپاره یوه مهمه بنسټیزه پروژه ګڼل کیږي. دغه دهلیز د افغانستان له لارې منځنۍ آسیا ته د صادراتو او وارداتو اسانتیاوې رامنځته کوي، چې دا خپله د سیمې د اقتصادي پیاوړتیا لپاره یو ستر فرصت ګڼل کیږي. د دې تر څنګ، واخان دهلیز د سیمې هېوادونو ته د سوداګریزي لارې پراخوي او د مختلفو محصولاتو تبادله اسانتیا رامنځ ته کوي. د دې دهلیز د پیاوړتیا سره، افغانستان کولی شي د خپلو تولیداتو لپاره نوي بازارونه پیدا کړي او د صادراتو کچه لوړه کړي. همدارنګه، د وارداتو

پر راکړه ورکولو هم اغیزي لري چې د سیمه ییز تولید او مصرف لپاره د آسانتیاوو پیدا کولو لامل ګرځي.

واخان دهلیز پراختیا له یو اړخه د نوي سوداګریز زیربناو او ترانسپورټي شبکو جوړېدو ته لاره هواروي، چې د دې له امله د روزګارونو نوي فرصتونه رامنځته کېږي. د مختلفو ځانګو لکه ترانسپورت، لوژستیک، او سوداګرۍ سکتورونه کې زیات کارمونده رامنځته کولای شي، چې دا خپله د افغانستان د اقتصادي وضعیت پیاوړتیا ته لاره پرانیزي. همدارنګه، د دواخان دهلیز د پراختیا سره افغانستان کولی شي د سیمې په لویو اقتصادونو کې خپل ځای پیدا کړي او د پراختیایي پروژو له لاري خپلې اقتصادي اړیکې پراخه کړي.

په مجموعي ډول، د واخان دهلیز د افغانستان لپاره د یو ستر اقتصادي فرصت په توګه ګڼل کېږي. دغه دهلیز د سیمې په اقتصاد کې د مهم رول لوبولو توان لري، ځکه چې دا به نه یوازې د افغانستان د سوداګرۍ لپاره نوي بازارونه رامنځته کړي، بلکه د سیمې د بې روزګارۍ کموالي او د کار فرصتونو لپاره هم یوه ستره مرسته وي. همدارنګه، دا پروژه به د افغانستان لپاره د سیمه ییزې اقتصادي اړیکو پیاوړتیا ته هم لاره هوارکړي.

**پایله اخیستنه**

په ټولیز ډول، د واخان دهلېز جغرافیایي موقعیت د افغانستان د سوداګرۍ، ټرانزیټ او سیمه‌ییز اقتصادي ادغام لپاره حیاتي او ستراتیژیک اهمیت لري، ځکه چې دا دهلېز افغانستان په مستقیم ډول له چین، منځنۍ اسیا او ختیځې اسیا سره نښلوي او هېواد ته د یوې لنډې، ارزانه او خوندي بدیلې سوداګریزې لارې زمینه برابروي. د دې دهلېز له فعالېدو سره به د افغانستان صادرات زیات، د وارداتو لګښتونه کم، ترانزیټي عواید لوړ، د

تولید کچه لوړه او د کارموندنې فرصتونه پراخ شي، او افغانستان به د سیمې د اقتصادي دهلیز په توګه مهم رول ولوبوي. همدارنګه، دا پروژه د «یو کمربند - یوه لار (BRI) «له ستر نوښت سره د نښلونې له لارې افغانستان د نړیوالو بازارونو برخه ګرځوي او د اقتصادي انزوا د کمېدو لامل کېږي. سره له دې، د امنیتي اندېښنو، کمزورې زیربناوو، سیاسي ننګونو او د ګډو تطبیقي تګلارو د نشتون له امله د دې دهلېز عملي کېدل له ستونزو سره مخ دي، خو که دا خنډونه په هوښیارۍ له منځه یوړل شي، نو واخان دهلېز کولای شي د افغانستان د اقتصادي ودې، سیمه‌ییز نفوذ، سیاسي ثبات او نړیوال اقتصادي موقعیت لپاره یو بنسټیز بدلون رامنځته کړي او هېواد یو ځل بیا د اسیا د سوداګرۍ او ټرانزیټ په مهم مرکز بدل کړي.

**وړاندیزونه**

۱. د واخان دهلېز د بشپړ فعالېدو لپاره باید د سړکونو، پلونو، ګمرکونو، لوژستیکي مرکزونو او مخابراتي اسانتیاوو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه وشي، ترڅو د سوداګرۍ او ترانزیټ بهیر اغېزمن او چټک شي.

۲. افغان حکومت باید له چین، تاجکستان، پاکستان او د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره د ګډو اقتصادي او ترانزیټي پروژو د پلي کولو لپاره دوامداره ډیپلوماټیکې هڅې ترسره کړي.

۳. د واخان دهلېز د بریالیتوب لپاره اړینه ده چې امنیتي اندېښنې، اداري ستونزې او د سرحدي مدیریت کمزورۍ حل شي، ترڅو نړیوال پانګوال او سوداګر ډاډمن شي.

٤. د واخان دهلېز له لارې باید افغانستان د سیمه ییز اتصال، اقتصادي ادغام او سوداګریزو همکاریو په مرکز بدل شي، څو د هېواد اقتصادي انزواکمه او سیمه ییز نفوذ یې زیات شي.

٥. د پانګونې د قوانینو روښتیا، د خصوصي سکتور ملاتړ او د پانګوالو لپاره د اسانتیاوو برابرول کولی شي د واخان دهلېز اقتصادي ظرفیت لا پیاوړی کړي.

٦. حکومت باید د کرنیزو محصولاتو، کانیزو سرچینو او صنعتي تولیداتو صادراتو ته ځانګړې تګلاره جوړه کړي، ترڅو د واخان دهلېز له لارې چین او نورو نړیوالو بازارونو ته لاسرسی زیات شي.

٧. پوهنتونونه او څېړنیز بنسټونه باید د واخان دهلېز د اقتصادي، سیاسي او جیوستراتېژیکو اغېزو په اړه لا زیاتې علمي څېړنې ترسره کړي، ترڅو د پالیسۍ جوړونکو لپاره کره معلومات برابر شي.

٨. د ترانزیټ او سوداګرۍ له لارې ترلاسه کېدونکي عواید باید د شفافو او حساب ورکوونکو میکانیزمونو له لارې مدیریت شي، ترڅو د هېواد په اقتصادي پراختیا کې اغېزمنه ونډه ولري.

٩. د افغانستان په اوږد مهاله اقتصادي او سوداګریزه ستراتیژۍ کې باید واخان دهلېز د یو ملي لومړیتوب په توګه شامل شي، ځکه چې دا دهلېز د هېواد د اقتصادي ودې، سیمه ییز اتصال او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره حیاتي ارزښت لري.

## سرچینې


- Yawar, M. E. (2024). Investigating the Political, Economic and Geopolitical Role of Afghanistan's Wakhan Corridor in China's Belt and Road Initiative. *Law and Humanities Quarterly Reviews*, *3*(1).
- Munir, M., & Shafiq, M. (2018). Geostrategic significance of Wakhan corridor for Afghanistan, China and Pakistan. *Margalla Papers*, *22*(1), 203-215.
- Hassan, T. U., Khan, A., & Ismail, M. (2023). Geo-Strategic Significance of Wakhan Corridor for Pakistan. *Global International Relations Review*, *6*(2), 8-17.
- Sarbiland, H., & Stanikzai, I. U. (2024). China-Afghanistan Relations and the Wakhan Corridor: Assessing Economic Interests. *Infrastructural Development, And Geopolitical Implications, Educational Administration: Theory and Practice*, *30*(6), 3514-3520.
- Amir, I. (2023). Geostrategic Importance of the Wakhan Corridor: Gateway to Regional Connectivity. *Pakistan Horizon*, *76*(4), 85-101.
- Bukhari, S. R. H., Khan, A. U., & Khan, M. T. U. (2024). The Wakhan Economic Corridor: Examining its Impact on Regional Power Dynamics and Geopolitical Strategies. *Spry Contemporary Educational Practices*, *3*(1).
- Ahmad, A., & Jamil, A. (2023). Wakhan Corridor: A gateway to strategic opportunities. *Institute for Strategic Studies, Research and Analysis*, *1*.
- Amiri, Z. (2024). Investigating the role of the Wakhan Corridor in the economic development of Badakhshan. *Payam Marafat Journal of Social Sciences*, *20*(2), 29-48.

- Verij Kazemi, M. (2021). Investigating the role of Afghanistan Wakhan Corridor in the design of a China One Belt-One Road. *Geography and Human Relationships*, *3*(3), 223-253.
- Malik, H. Y. (2014). Geo-political significance of the Wakhan corridor for China. *Fudan Journal of the Humanities and Social Sciences*, 7(2), 307-323.
- د واخان دهليز د سيمې له هېوادونو سره د سوداګرۍ او ټرانزيټ يوه بديله لاره کنفرانس په د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق کې ترسره شو د لاسرسي لپاره له

https://mail.acci.org.af/pa/1525 . ACCI.org (2023)

- د واخان دهلېز؛ د افغانستان لپاره د پاکستان له سوداګرۍ څخه د خلاصون لپاره ستراتيژيک فرصت .د لاسرسي لپاره له

https://ps.didpress.com/18448 ps.didpress. (2025)

افغانستان، د چين د کمربند او لارې (BRI) حياتي کړۍ

https://www.khaama.com/pashto/archives/80631 khaama.com

- د افغانستان جغرافيايي موقعيت: د سيمې د اتصال څلورلار

AISRS. (2024) . Afghanistan Institute for Strategic & Regional Studies. https://www.aisrs.org/51/%D8%AF

- ايمل، عبدالله .(۲۰۲۴) .د واخان دهلېز اقتصادي ارزښت ته کتنه. رياست الوزراء اقتصادي معاونيت .

https://dpmea.gov.af/ps/1403artical24 dpmea.gov.af

- دراني، مامون .(۲۰۲۴) .د واخان دهلېز پروژه: د اقتصادي ودې هيلې او امنيتي اندېښنې .بي‌بي‌سي پښتو .

https://www.bbc.com/pashto/articles/cd13x0195wko

- حکیمي، بي‌بي امنه .(۲۰۲۵) .د واخان دهلېز د پرانیستې هیلې؛ ختیځې اسیا ته د افغانستان لار لنډېږي .طلوع نیوز .

https://tolonews.com/index.php/pa/business-196725

یوسفی، جاوید .(۲۰۲٤) .د واخان د لارې؛ د ختیځ او لویدیځ آسیا د نښلولو نقطه

https://tahlilroz.com/ps/

- افغانستان د طبیعي زیرمو او جغرافیایي موقعیت له مخې د سیمې ټرانزیټ او سوداګرۍ مرکز کېدای شي .رادیو تلویزیون افغانستان

https://rta.af/article9037/ rta.af RTA. (2025)

- کاکاخېل، فخر .(۲۰۲۵) .واخان، بدخشان د پاکستان، افغانستان او چین لپاره څومره ارزښت لري؟

https://www.voadeewanews.com/a/how-much-does-china-need-wakhan-badakhshan-/7960308.html voadeewanews.com

- دهلیز واخان و اهمیت جیواکونومیک و جیو ستراتژیک آن!

https://www.howd.org/likene/3288-ahameyate-wakhan.html

- Mushtaq, M. (2024). The geostrategic importance of the Wakhan Corridor for Afghanistan and China. Anis Daily. https://anisdaily.com/?p=38741